# آواز

ارگان نشراتی رادیو تلویزیون
خلق افغانستان



دافغانستان دخلق دموکراتیک ګوند [illegible]
نور محمد تره کی

سال اول شماره [illegible]
۱۵ جدی ۱۳۵۷

بیانیه ... شورای انقلابی
بمناسبت کنگرهٔ حزب و
فرمان اصلاحات ارضی

# د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت

# د انقلابي شوراء د رئیس فرمان

## مستحقینو ته د ځمکو ورکولو باندې د پیل کولو په هکله

ډېر خوشحالېږم چې د ځمکو په هکله د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د اتم ګڼې د فرمان د دوه ویشتمې مادې له حکم او د دولت د ارضي اصلاحاتو له پروګرام سره سم تودو او معتدلو ولایتونو یعنې ننګرهار، لغمان، کونړ، فراه، نیمروز، هلمند، کندهار، ارزګان، زابل او هرات کې کرانوبې ځمکو او د لږ ځمکو خاوندو بزګرانو ته د وړیا ځمکو د ویشلو فرمان صادروم چې باید نن د ۱۳۵۷ کال د جدي په ۱۱ نېټه پیل ورباندې وشي. او د افغانستان د زیاراېستونکو خلکو د پېړیو پېړیو او د افغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند د کلونو کلونو د ارمانونو سرته رسېدلو په لاره کې ستر پړاو وهل کېږي.

څوارلس کاله پخوا د افغانستان د خلکو د موکراتیک ګوند په لومړۍ کانګره کې زمونږ د زیاراېستونکو د دغه ارمان روښانه وځلېده او دادی نن د دغې کانګرې په څوارلسمه کالیزه کې د ثور د ستر انقلاب په بریالیتوب سره د دغه ارمان د ترسره کېدلو شوغلې پړه کېږي.

په داسې حال کې چې د دغه ستر بریالي اقدام له امله خپلو ټولو خوږ زیاراېستونکو وطنوالو ته د زړه له کومې مبارکي وایم پوهېږم چې زمونږ ټول زیاراېستونکي بزګران، زراعتي کارګران او بې وزلې کوچیان به د خپلو رواکتو په خاطر د ثور د دموکراتیکو ارضي اصلاحاتو په سرته رسولو کې په پوره مېړانه، عالي روحیه او انقلابي نظم او دسپلین برخه واخلي.

ټول هغه ځمکې لرونکي چې له (۵) لس جریبه لومړۍ درجې ځمکې څخه ډېره ځمکه لري مکلف دي چې خپله زیاته ځمکه د دولت مسؤلو مقامونو ته له اصولو سره سمه ورکړي او خپله په وطنپالنې مینې سره د خپل هېواد د آبادولو په خاطر په خپله (۵) لس جریبه ځمکه باندې بسیا اوسي او عملاً په دغه ستر انقلابي عمل کې مثبته برخه واخلي.

د دولت ټولو مربوطو اورګانونو ته پوره پوره هدایت ورکړ شوی چې خپلو ټولو زیاراېستونکو بزګرانو، زراعتي کارګرانو او بې بضاعته کوچیانو ته د دغه انقلابي اقدام په بریالي جریان کې ښه لارښوونه وکړي. تر څو زمونږ ټول زیاراېستونکي وطنپالونکي خلک د ثور د ستر انقلاب د بریالیتوبونو په تکامل کې د برخې اخستلو ویاړ ولري.

نور محمد تره کی

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا رئیس او صدراعظم

ACKU

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

دا فغا نستان دخلکـــــــودمو کرا تیک‌گوند دلومــــــړی‌کانگری د۱٤ کا لیزی پــــه‌منا سبت زمو نږ‌دانقلا بی‌مشر دراډیو تلویز یونی وینا متن:

# زمو نږ کار گران،بز گران‌اونورزیار ایستونکی‌نورد‌خپل‌هیواد‌خاوندان‌دی

## ددوی‌دخلاقه کار گټه‌په‌دوی‌پوری‌اړه‌لری



PROPERTY OF ACKU
S1102
احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

زمونږ کران او اتفلا بی لاربښود،د( ۰۱ خ۰د۰گ) دمرکزی کمیتی عمومی‌منشی، دانقلابی‌شورا رئیس‌اوصدراعظم نورمحمد تره‌کی کله چی دخلکو ددموکراتیک گوند دلو مړنی کنگری‌د۱٤ کالیزی په مناسبت دافغا نستان‌دخلکو دراډیو تلویزیون له‌لاری خپله‌وینا آورو ی۰

**د سنگر ملگرو !**

د افغا نستان زړورو او شریفو خلکو !

زمونږ د گران هیواد او د کار گرو دطبقی مخکښی‌دافغا- نستان د خلق دمو کراتیـــک گوند سږ کال خپل څوارلسم تلین پداسی شـرایطـو کـی نمانځی چی دهیواد په تاریـخ کی لومړی‌ځل دهغه په‌مشرتابه دگران افغا نستان خلقی‌انقلاب بریالی شوی دی او سیاســی قدرت له ستمگرو طبقو څخــه دکار گرو طبقی او د هغی‌د- انقلا بی متحد یئو یعنی‌دبزگرو اونورو زیارایستو نکو لاس‌ته ورغی اودثور ستر انقلاب چـی زمونږ دځنځیر مـاتـوو نـکی گوند په لاربښوونه دخـلقـی وسله والو قواوو دانقلابی پاځون په وسیله اود هیـواد دزیار ایستو نکو په ‌پراخه‌ملاتړ

**( لطفاً پاڼه واړوی)**

بریالی شو،زمونږ دلرغونی ، هیواد په پنځه زره کلن تاریخ کی‌یی نوی پانه راواړو له او زمونږ د ویاړلی هیواد دزیار- ایستو نکی انسان په گټه یی ددغی خاوری د سمسور تیا او آبادی له پاره لاره خلاصه کړه.

زمونږ کار گران، بزگران او نور زیار ایستو نکی له دی، ورو ستەد خپل هیوادخاوندان دی او هغه څه چی د خپل تندی په خولو او دشرافتمندانه‌گټور کار په وسیله منځته راوړی په دوی پوری اړه‌لری .

په دغه‌څه دپاسه اتومیاشتو کی‌چی دثورد ستر انقلاب‌څخه تیریږی دافغا نستان‌د خلکو‌په گټه داسی ستر کارونه شوی دی چی د هیواد په تیر تاریخ کی‌دسلگو نو کلونو په جر یان کی هم د هغو ی د اجرا کیدو حتی تصور هم‌نه کیده.دانقلابی شورا فر مانونو اونوروپه‌لس- گونو گټورو اقدا ماتو زمونږ خلك دفیوډالی څو بیړیو لــه مریتوب او ډول ډول ظلمونو څخه‌و ژغوړل . او س‌دخلکود خپلواك او نیکمرغه ژوند په‌لار کی زیات خنډونه له مینځــــه تللی دی. باید وویل شی چی یوازی‌د شپږم، اووم‌او اتم‌نمبر فر مانو نوپه ذریعه له‌یوسلو پنځوس زره‌میلونو څخه‌دزیاتو افغا نیو گټه دافغا نستان‌زیار- ایستو نکو تـه رسید لـی‌ده.

ددغو سترو پیښو دپیل‌ټکی چی زموږ دهیواد تاریخ پـراِی ویـــا ړی دا فغا نستان دخلق ددموکرا تیك گوند ینـســټ ایښودل اود هغـه دلـومـړی کنگری غونـډه وه .دگـونـد دلومړی کنگرای څخه دهیوادد تاریخ دستری پیښی یعنی د ثور دستر انقلاب تر وختـــه پوری زمونږ گوند دتکا مـــل سختی لاری ووهلی چی‌زمونږ دگوند دلومړای کنگری دغونډی دور څی څوا ر لسمه کلیـــزه نن له‌غرمی وروسته پـه‌د و و بجو دگوندی ساز مانونو پـه وسیله پیل کیږی .

زمونږ ویاړلی گوند دخپل تأ سیس دلومړیو مبار زو په بهراوونو کی بیل بیل سازما- نونه او جلا جلا حلقی جوړی‌او هغوی ته‌یی ارتباط سره‌ورکړ. یو شمیر کسانو په‌دغه مرحله کی‌هم دکارگری طبقی په دوران جوړونکی ایدیا لوژی باندی‌د طبقا تی مبارزی دادامی جرأت اوتوان په ځان کی نه لیده‌نـــو په‌یوه یا بله پلمه یی خپل‌ځان دخلکو دمبا ر زیتو څخــــه گـوښـــه کـړ .

خو مبارز اودخلکو له‌ارمانو سره وفادار ملگری که څه هم دگوندد جو ړیدو په پیل کی‌له هیواد څخه‌لیری‌ؤ، دکار گری طبقی‌له هیلو اود کارگرای‌طبقی له‌گوند سره‌یی‌دخپل پیوستون څخه مونږ‌ته خبر راکړ په‌دغــه مرحله‌کی‌هم دسلطنت د ظالم- دربار واکوالانو زیار و ایستته چی ددغه کارگری تـهـضـت مشر توب دخپلو‌نازولیو دنفوذ په‌وسیله تر لاسه کړی او هغه په خپل ځان پوری وتړی خود افغا نستان د خلق‌دمو کراتیك گو ندد کار یگرو دطبقی‌دعلمی اید یا لو ژی په رڼا سره‌دغه ډولی حیلی اود سیسی شنډی کړی او خپلی ودی او تکا مل ته‌یی ادامه ورکړه .

دطبقا تی آگا ها نه مبارزی دسختید و په جر یان کـــی‌د افغا نستان دخلق دمو کراتیك گوند لو مړی کنگره جو ړه شوه. بیخی څرگنده وه چی‌د فیو ډالی ا شرافیت پـــوری تړلیو کسانو کو ښښ کاوه چی‌پد غه کنگره کی‌هم‌د خپلو بادارانو په طبقا تی گټه هلی ځلی وکړی اود گوندد‌مشرتابه ترلاسه کولو لاره ځان‌ته اواره کړی چی‌د گوند د مبـــارزو را تلو نکو جریا نونو په ډیر ښه ډول‌دغه‌حقیقتو نه‌دهنداری په څیر وښوو ل . له هغـی وروسته جی‌د افغا نستان‌دخلق ددمو کرا تیك گوند لو مړی کنگره په بری سره پای‌تـــه ورسیده او په‌کار گری انقلابی نړی کی یو بل وروړ گونـــد سرراپورته کړ‌دگو ند وده‌ډیره گړندی وه اود نفوذ لمن یی ډیره زیاته خوریده‌په اشرافیت پوری تړلیو اود سلطنتی‌دربار لیری او نژدی تا لی ځتهواود طبقا تی مبارزی اود ټول‌هیواد دخلکو تر مینځ د طبقا تــی پیوستون دښمنا نو ډول ډول خنډو نه رامینځته کـــول اود گوند دمرام او اساس نا مــی دزیار ا یستو نکو خلکو پــه منځ کی د گوند دکارد طرزاود گوند دمرکزی کمیټی‌دپرا ختیا دمسأ لو په‌سر یی گوند لـــه زیاتو ستو نزوسره مخامخ‌کړ. سره له‌دی هم گوند له دغـو کشالو څخه په‌بری اوسرلوړی سره ووت اوله هغه څخه چی دافغا نستان دخلق دموکراتیك گوند دفاع کوله،په عمل کی‌یی هم ریښتینی مصداق پیدا کړ.

دافغا نستان د خلـــق دمو کراتیك گوند په ټینگیدو او غښتلی کیدو اودهیواد په زیار ایستونکو خلکو کی‌دهغه په غوړیدوسره حاکمی ټو لنی ددغه گوند دټوټه کیدو په‌لټه کی شوی او غو ښتل یې‌چی دهغه‌په مشرانو او صفو نوکی

گډوډی‌راولی‌دخپلو‌معلوم‌الحالو ایجنټانو په مشری یی څو ځله دگو ند څینی غړی تیر ایستل اوله هغه څخه‌یی بیل کړل اود ډول ډول امتیازونو اونامطلوبو اړیکوپه لرلو سره‌یی د هیواد دکارگری طبقی دد غه مخکښ د ا فغا نستا ن د خلـــــق دمو کراتیك‌گو ند په ضد ډیر کلونه مبارزه وکړه اود گوند دمشر تابه په ویاړلو غړوباندی یی دخپلو بادارانو په دستور دخپلو پرو پاگندو سخـــت گوزارونه وکړل خود گوندد مشر تابه اود هغه د مبارزو غړو ا صو لیت او ریښتینوالی دخلکوددښمنانو د غه ټو لی هلی ځلی له‌خاورو سره برابری



ACKU

کړی. اود (کار گری طبقـــی مخکښې) دافغا نستان د خلق دمو کراتیك گوند دمبارزی په ډگرکی بریالی شو .

دداود دقدرت په وخت کی دتاریخ ددغه مستبد ټو لـــو تا ی ځتو هلی ځلی کولی چی د افغا نستان دخلقو د موکراتیك گوند داسی کمزوری کړی چی ژرله منځه پسی لاړ شی خود خلکو دد غو دښمنانو ټو لی مذبو حانه هلی ځلی دنا کامی سره مخامخ شوی. ځکه چـــی زمونږ گوند دساز مانی سیاسی اواید یا لوژیکی مبارزودویاړلی تاریخ په داسی ټینگ ښنسټ ولاړوو چی ورا نول یی دظالمانو دگوډا گیو له لاسه وتلی کارؤ.

دداود دا پالیسی چـــــی دامپر یالیزم او ارتجاع په پښو کی سر کیږ دی او ځـــــان ور وسپاری زمونږ گوند دی ته اړکړ چی په هیواد کی د خلقی انقلاب د بریا لیتوب په خاطر دښی تیاری نیولو له پاره نوی تاکتیکونه غوره کړی. دد غه اصولی تا کتیك په بر کت گوند وکړای شول چی د خلکود گټود دفاع دپاره بشپړ تیاری ونیسی.

په داسی حال کی چی په دغه فرصت کی هم د گوند دښمنانو دډیرو دسیسو او حیلو ځخـه کار وا خیست مگرویی نکړای ـ شول چی زمونږ دویاړ لی خلقی انقلاب (دثور د ستر انقلاب) دبریا لیتوب مخه و نیسی. دغه انقلاب دافغا نستان د خلقـو ددمو کراتیك گوند په وا سطه او زما په هدایت او لار ښوونه زمادپوه فعال او فدا کارشاگرد ملگری حفیظ ا لله امین پـــه قو مانده اوپه اردو کی دخلقی قو ماندانا نو او منصبدا رانو په زړور توب اوویا ړ لـــــو سر ښندنو بریا لی شو .

د ثور دانقلاب په بری سره هم د گو ند او خلقو په ضد دسیسی بندی نه شـوی اود گوند ښهرنی او دا خلی ټول دښمنان سره یو لاس شول او زمونږ دگوند اوزمونږد خلقی دولت په ضدیی په توطیو لاس پوری کړچی د کار گرو دوران جوړ وونکی طبقی اود نوی ډول گوند اصو لو ته دگو نـــدد مشر تابه پـــه وفـــا داری او رښتینوا لی سره د غه ټو لی دسیسی رابرسیره او شنډی شوی. زمونږ گوند دخپــــــل موجود یت په وخت کی دکارگر دطبقی د ا صو لی مبارزی ټولی ښې او ډو لونه په نظر کـــــی نیو لی وی اود خپل هیواد د ټو لنی د شرا یطو سره سم یی ٔه هغو ځخه کار اخیسته اوله ساز مانی او اید یا لو ژیکـــی هر ډول انحرا فو نو سره یی کلکه مبارزه وکړه په ټو لو او ضاعواو حالاتوکی یی دنړی ـ والی خپلوا کی بخښو نکـــــو جنبشو نه تجربو ځخه استفاده اود خپلی طبقاتی جگړی پـــــه لارکی یی دکار گری طبقی دوران جوړوونکی اید یا لوژی دخپل کاراو عمل لار ښوونکی کړه.

دهمدغه اصولی اوپر له پسی ازمو یل شوی چلند د لا ری په تعقیبولو سره گوند په نسبتاً لنډوخت کی و کړای شول چی د ټول هیواد اود زیارایستونکو دگټو د رښتینی دفاع کوونکی گوند په توگه واوړی او ستری مسأ لی اود هغو په لړ کـــــی دسیاسی قدرت دترلاسه کولو مسأ له ده، پخپــل خـــلاق او ابتکاری شکل حل کړی. او هغه انقلا ب یی په خپل هیواد کی بر یا لیتوب ته ورساوه چی په خپله نوع په نړی کـــی بی ـ ساری اود افغا نستان خاص ځر گندوی دی .

په او سنیو شرا یطو کی د افغا نستان دخلق دموکراتیك گوند د گران هیواد دکارگرانو بزگرانو اونورو زیارایستونکو په نماینده گی سیاســـی قدرت لاس ته ور وړی دی اود فیو ډالی له شرمه ډك پاتی شوی میراث په ضدمبارزه کوی اود لوږی، نارو غی، ناپوهی اود ټولنیزو ـ غیر عادلانه اړیکو په ضدپاخه کارونه کوی اودکور نی ارتجاع اود امپر یا لیزم د دسیسو په ضد دافغا نستان دخلقو دهر اړخیزی جگړی لار ښوونه کوی. دگوند ښنسټ باید د دا سی جوړ وونکی ر غو و نکی قوت په تو گه تکامل وکړی چی خپلی د غه د ر ند ی و ظیفـــــــی د افغا نستان دزړورو خلکو اود تر قی غو ښتو نکو بشر یت په و ړاندی په سر لوړی او ویا ړ سره پای ته ورسوی.

**ملگرو !**

په او سنیو شرا یطو کی هر چیری چی یاست ستا سودهر یوه وظیفی ډیری درنـــدی او سختی دی .اودهغو سر ته رسول له ویاړه ډك دی. په داسی حال کی چی دافغـــا نستـــــان دخلق دموکراتیك گوند د لو مـړی کنگری د ځوار لسمی کلیزی له امله تاسو اود هیـــواد زړورو خلکو ته خپلی ښی مبار کـــی وړاندی کوم. هیله مندیم دغه را تلو نکی لارښوونی د خپل انقلابی کار اومبارزی سر مشق وگر زوی ؛ :

په هر ځای او هر دریغ کی چی یاست په عمل کی په خپلو لو ړو او عالی اخلا قو سره د افغا نستان د خلکو د رښتینو خدمتگارو په توگه ځانو نـــه

(پاتی په ۳۵ مخ کی)

ACKU



دافغانستان دخلکو ددموکراتیک گوند دمرکزی کمیټی منشی ، دصدراعظم مرستیال او دبهرنیو چارو وزیر حفیظ الله امین کله چی دکابل ننداری په تالار کی د افغانستان دخلکو دموکراتیک گوند دلومړنی کنگری دخوار لسمی کالیزی دنمانځنی په درنه غونډه کی وینا کوی.

د صدراعظم مرستیال او دبهرنیو چارو وزیر حفیظ اللـه‌امین وویل:

# ګوند اوتره کی جسم اوروح دی جسم اوروح یوله بل نه بیلیدلی نشی

**کابل : زمونږ د هیواددستر او اتل لارښود، دمرکزی کمیټی دعمومی منشی او دافغانستان دخلکو ددمو کراتیك ګوند( په هیواد کی دکار ګری طبقی مخکښ) مؤسس دانقلابی‌شورا د ر ئیس او صدراعظم، نورمحمد تره‌کی ، په ویناسره چی د جد ی د ۱۱ نیټی په بیګا ه یی دافغا نستان دخلکو دراډیو تلویزیون له‌لاری وکړه دافغا نستا ن دخلکو ددموکراتیك ویاړ لی ګوند دلومړی کنګری څوارلسمه کا لیز ه د جد ی په ۱۱ ورځ په ټول هیواد کی په بی ساری درنده اوپر تمینه توګه ونمانځله شوه.**

په هغه درند • غونډه کی چی له دی ا مله دکابل ولایت دګوندی کمیټی له خوا د کابل ننداری په تالار کی جوړه‌شوه، دافغانستان د خلکو ددموکرا- تیك ګوند، د مر کز ی کمیټی منشی د افغانستان ددموکرا- تیك جمهور یت د صدراعظم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر حفیظ‌الله امین، دافغانستان دخلکو د د موکراتیك ګوند د مرکزی کمیټی ،منشی دعامی روغتیا وزیر او دپلان جوړولو د چارو دوزارت وکیل ډاکتر شاه‌ولی ، دافغانستان د خلکو ددموکراتیك ګو ند د مر کزی کمیټی د سیاسی بیرو غړیو دانقلابی شورا او د وزیرانو د شورا غړیو د ولایتی کمیټی اود کابل دښار د ګوندی‌ناحیو منشیانو او غړیو ،دافغانستان د ځوانانو اوښځو دخلقی سازمانونو د رهبر ی رئیسانو او هیأ تو نو ، د افغانستان دخلکو د وسله وال پوځ یو شمیر لوړ ر تبه افسرانو، او دولتی لوړ رتبه مامورینو اود دوستو هیوادو یو شمیر سفیرانو ګډون درلود.

ددغی د رندی او پر تمینی غونډی په پیل کی دافغانستان ددموکراتیك جمهو ر یت دملی سرود ترانه خپره شوه او و ر پسی دافغانستان د خلکو د د موکراتیك ګوند د مرکزی کمیټی منشی د صد را عظم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیـر حفیـظ ا لله(امیـن) دافغانستان د خلکـو د ستر مشر ، د افغانستان د خلکـو د دموکراتیك ګوند دمـر کـزی کمیټی دعمومی‌منشی ،دانقلابی شورا درئیس او صدراعظم (نور محمد تره‌کی) په دستور مستحقینو ته د څمکی دویشلو په باب دانقلابی شورا درئیس فرمان ولوست .چی متن یی دهمدی ګڼی په لمړی مخ کی خپور شوی دی.

دباختر خبریا ل زیاتوی‌چی دکابل ننداری تالار ز مونږ د ګران مشر نور محمد تره‌کی پـه عکسونـو ، دافغانستـان د دموکراتیك جمهوریت‌په ملی بیرغونو ، او انقلابی شعارونو چی په سروټوټو لیکل‌شوی‌وو ښکلی کړی شوی ؤ .

کـله چی حفیظ ا لله امیـن دخپلی ویناداورولو لپاره‌دکابل ننداری دستیج لور ته تلل‌ټول حاضرین ودریدل په پرله پسی چك چکو ،دګل‌پاڼو په‌شیندلو، دانقلابی شعار ونو په ورکولو اود هورا په نارو سره یـی هغوی بدرګه کړل .

او دافغانستان دخلکو ددمو- کرا تیك ګونددلو مړی کنګری دڅوار لسمی کالیز ی له امله یی‌دخپلو خوښیواوخو شا لیو نه ډك احساسا ت څر ګنـد کړل.

دافغانستان دخلکو دد مو- کراتیك ګو ند دمر کزی کمیټی منشی دصدراعظم مر ستیا ل اود بهر نیو چارو و زیـر وروسته له هغه چی د خپـل ګوند او خلقی دو لت په نسبت یی خلقی اود هیواد پا لنی‌تودو احساساتو ته ځواب ورکړ پـه خپله او ږده ویناکی یی داسی وویل:

## دوینامتن

**مبا رزو ملګرو ، زړه ورو دوستانو او ګرانو وطنوا لو! درنو میلمنو !**

**ویاړم چی دافغانستا ن‌دخلکو ددمو کرا تیك ګو ند(د هیواد کارګری طبقی مخکښ) دډ یرو ښـو ا و ډ یـر و یـا ړ لـو پر تمینو مراسمو څخه په‌یوه کی یعنی د خپل دغه‌ویا ړ لی ګـو نـد د لـو مـړ ی**

ACKU

**کنگری دجوړیدو دورځی د څوارلسمی کالیزی دنمانځنی په مراسمو کی ګډون کو م . دنړی دکارګری انقلابی‌نهضت په جنبش کی ددغی تار یخی ورځی له‌امله دافغانستان دخلکو ددموکراتیك ګوند دمؤسس ، چی دهغه دجوړیدو له ورځی څخه تر دی‌ګړی پوری ،د هغه ډیر ویاړلی لار ښود او دهغه دکنگری دلومړی ورځی‌څخه تر نن ورځی پوری ګوند ته دهغه دمرکزی کمیټی دعمومی منشی په‌توګه ښودنه کړیده .**

**دافغانستان ددمو کرا تیك جمهوریت دانقلابی شورا د رئیس اوصد راعظم ملګر ی نورمحمدتره‌کی حضور ته د افغا نستا ن دخلکو دد مو – کراتیك ګو ند دسیا سی دفتر او مرکزی کمیټی دغړو د هغه دمبارزو او زړورو کدرونو ا و صفو فو ، شر یفو کار ګرانو او نورو زیار ایستو نکو ته ډیری صمیمی خلقی مبار کی وړاندی کوم.**

دافغانستا ن دخلکو د مو – کراتیك ګو ند په نړی کی لومړنی کار ګری ګو ند دی‌چی دخپل مو جودیت په ډیره لږه موده کی یی خلقی انقلاب،دثور ستر انقلا ب بریا لی توب ته رسولی دی،ددغه ګوندڅوارلس کلنو مبارزو ، دهغه د ستر لارښود خلا قی لار ښوو نی‌او دمرکزی کمیټی اود صفو فو د غړو رول په هغو خلقی تاکتیکونو سره‌چی په‌کاراچول شوی دکارګری طبقی د دوران جوړو نکی تیور ی اود هغی‌د عملی تکتیکونو پانګه زیا ته کړیده چی دستر اکتوبر له ستر انقلاب نه وروسته دنړی ډولو کار ګرانو ته هغه الهام– ښښو نکی منبع ،دپرمختیا یی هیوادو ټولو زیار ا یستو نکو ته ډیر ښه سر مشق ګید لی شی ، دد غو حقا یقو د عینی اوعلمی څرګندونی دپاره کله‌کله چی‌وخت پیدا کیږی د کارګری طبقی دعلمی تیور ی‌په رڼاکی هغه‌ځیرو، نن‌هم‌دطبقاتی مبارزی ځینو پرنسیپونو ا و فلسفی افکارو ته‌په پاملر نی سره په‌افغانستان کی دطبقاتی مبارزو له ځینو اړخو نو ا و خصلتو نو ، دافغا نستا ن د خلکو دد مو کرا تیك ګوند له رو ل او د ثور د انقلاب دبریالیتوب په برخه کی دملګری نورمحمدتره کی د تیسس له اغیزو سره تما س نیسم ، او دپو ها نو پا ملر نه په‌تیره بیا دداخلی اوخارجی سیاسی علومو دمینه و ا لو هغی ته ا ړ و م چی په علمی معیارونو اوعملی‌واقعیتونوسره یی ارزیابی کړی اودبحث‌لاندی یی ونیسی .چی دکارګری‌طبقی دعلمی تیوری په‌تکامل کی‌یوه مناسبه برخه اخیستل شو ی وی پدی باره‌کی غواړ م په‌لاندی ټکو خبری وکړم :

**سیاست ،**
**دولت ،**
**ګوند،**
**انقلاب .**
**سیاست :**

سیاست طبقاتی مبار زه منعکسوی اوپه متضادو طبقو باندی دټولنی په‌ویش سر ه منځ ته‌راځی پدی معنی چی د دښمنو ډلو لرونکی ټولنه کی دطبقاتو بیلابیلی ګټی رامنځ ته‌کیږی چی دسیاست‌دمنځ ته راتلو سبب کیږی.

له‌دی امله سیاست دټو لنی دطبقو ترمنځ یوه رابطه ده . او یوازی ترهغه وخت پور ی وجود لری چی طبقی شته خو په بیلابیلو طبقو پوری‌دمربوطو عناصر و ترمنځ ټو لی‌اړیکی اویا په خپله طبقی سیا ست ندی .

**دمثال په‌توګه هغه بزګر چی دملاك له‌پاره په‌بیګاری‌بوخت‌دی دهغوی ترمنځ رابطه ټینګیږ ی چی د غه رابطه که‌څه هم استثماری ده، خوسیاست ندی په همدی توګه کپیتالیست ته دکار ګر خدمت چی‌دپرولتا ریا دکارقوت پیری او استثمار وی یی سیاست ندی .**

**استثماری مناسبات،اقتصادی ماهیت یعنی دطبقاتی ټو لنی تولیدی مناسبات دی .**

اقتصادی مناسبات هغه‌وخت سیاسی مناسباتو ته تکا مل کوی چی یوبزګر یادبزګرا نو یوه ډله له یوه ملاك سره ددوی دبادار په‌توګه نه‌بلکی دفیوډالی نظا م پر ضد ،دټول فیوډا لی سیستم پرضد په‌مبارزه لا س پوری کوی اودټولی فیوډا لی طبقی اودهغی له‌دولت سر ه مخالفت کوی .

دغه راز دکپیتا لستی یا د کپیتالستانو دیوی ډلی پرضد داجوری دزیاتوالی‌له پاره د یو کارګر اویا دکارګرانو دیو ی ډلی مبارزه سیاسی نده خو د کپیتالستی نظا م‌اودکپیتالستانو دطبقی دتسلط پر ضد مبارزه سیاست دی .

نوله‌دی امله دطبقو ترمنځ‌په اړیکو کی دسیاست په‌تشخیص کی دغه دوه عامله مهم رو ل لری .

لومړی :دیوی طبقی بنسټیزی ګټی دهغو په بشپړ او ژ و ر شکل سره‌په سیا ست کی بیانیږی.

دمثال په‌توګه دکار ګر لپاره دګټی‌نه ډك دکاردقدرت پلورنه کوم مهم‌شی ندی، بلکی‌دکارګر بنسټیز هدف دهغی اجوری د اسارت دسیستم‌له‌منځه وړل‌دی چی په سیاسی مبارزه‌کی افاده کیږی باید په یاد ولرو چی‌هره طبقاتی مبارزه دیوه ټاکلی‌تولید دطرز له امله ارزښت لری چی په‌خپل متکامل شکل‌کی یو ه سیاسی مبارزه ده.

له‌دی امله سیاسی مبار زه دخپل ځان دژغورنی لپار ه د زیار کښو خلکو دمبارزی ډیره عالی‌بڼه‌ده له دغو ټکیوڅخه‌په ښه توګه څرګند یږی چی د هری‌طبقی‌سیاست‌دهغی‌طبقاتی دریځ څرګندوی‌او دهغی‌اساسی ګټی بیانوی .

دمثال په‌توګه کله چی‌دکارګر طبقه قدرت ته رسیږی دخپلو متحدو اومخالفو طبقو په‌ارتباط دخپل سیاست کورنی اوبهرنی نوری مسألی ټاکی .

۲ـ سیا ست دطبقو ترمنځ یوه‌داسی را بطه‌ده ،چی‌دخلکو په ذهنو نو کی تشکل مومی، دمثال په‌ډول پا څونونه او بزګری جګړی ، ترستم‌لاندی خلکو دملی ژغورنی مبارزه،او پرولتر ی انقلابونه، داجتماعی او ملی ستم دپای ته‌رسولو لپاره دخلکو د آرزوګا نو ضمانت کوی .له‌دی امله ده‌چی سیاست داقتصاد په خلاف د ټولنی دروبنا جز دی.سیا ست له‌نورو طبقوټولنیزوډلو ، دولت او ټولنیزو پدیدو سره په



ACKU

ار تباط کې دیوې طبقې یایوې طبقاتي ډلې آگاهانه سلوك دی، چې ددغې طبقې یا طبقا تــې ډلې دریغ او د هغــې گـټــې خرگندوي،او تولیدي مناسبات دهغه‌په‌ډیره اساسي اوپرله‌پسې بڼه منعکسوي ، پدې معنی چې سیاست نــه یــوازې اقتصـاد منعکسوي ، بلکې دهغه ماهیت هم‌افاده کوي ،له دې‌امله‌دنړې دکار گرانو مشر په ربښتیاسره ویل چې :«سیاست د اقتصاد متبلور اومتمر کز بیان دی »

**خو سیاست‌له‌اقتصادي‌اړیکو څخه زیاتې مسائلې هم په‌برکې نیسې په طبقاتي ټو لنــه کــې ټولې ټولنیزې ا ړیکې په یوه بڼــه یا په بله‌بڼـــــــه، انقلاب‌او ارتجاع،جگړه‌اوسوله دخلکو او ملتو نو اړ یــکې ، اید یا لوژیکې چلندونه او نور سیاسي اړیکې لري ،له‌دې‌امله سیاست دټو لنیز ژوند فعال عامل دی .**

طبقې‌او دټو لنې بیلا بیلې ډلې خپل فعالیتو نه دډول‌ډول موسسو او ساز مانو نو،لکه: سیاسي‌گو ندو نه، مطبو عاتو راډیو، تلــویزیــو ن او نــور د سیستمو نو پــه و سیله پــر مــخ بیا یــی .دحاکمو طبقوپالیسي تر ټولو دمخه‌د دولت‌له‌خوا‌تامینیږي‌چې مخالفې طبقې له هغې سره له‌د ښمنې ډك چلند کوي، دولت لـــــه سیاسي گوندو نو سره یــو ځای دسیاسي مبارزې په‌مرکز کې‌پروت دی ، دبور ژوا زی یو زیات شمیر ایدیا لو گان اود انار شیست متفکرین او پیتې بورژوا‌انقلابیون سیاست په‌زور سره را ټیټوي چې دا ناوړه غلطي‌ده. سیاسي بڼــې اود نفوذ میتودونه خورازیات دي البته ځر گنده ده ، چــې هیڅ و ا کمنه طبقه دخپــلې دیکتاتوري په‌پر مخ بیولوکې زور بیځې‌نشي پریښودلای،خو زور دهدفو نو دتامین یوازې بڼه نده . زور دانقلا بــې طبقو په ار تباطچې غوا ړي نوې ټو لنه جوړه کړي پــه پر نسیپ کې‌له هغه ار تجاعې زور سره چې غواړي نوي‌شې له‌منځه یوسي، تو پیر لـــري زور تل دیوه اقتصادي ځواك په‌توگه عمل کـوي له‌دې‌امله زور داقتصاد په ذریعه ټا کل کیږي . سیاست یوا زې‌هغه وخت ستره برخه در لودلی شي چې په اقتصا د باندې ولاړو ی دتاریخ دقــوا نینــو ضدسیاست ناکامیږي.زورهم د دولت له‌خوا تحقق مـومـي.

**دو لت :**

دو لت دټو لنې دداخــلې تکامل محصول دی ،چې پــه مادي تولید کې دبدلونونو له امله منځ ته‌راځي کله چــې‌د تولید دیوه طرز ځای بـــل تولیدي طرز نیسي دو لتــې سیستم بد لیږي دو لت تــل موجودنه ؤ. په لومړنی ټولنه کې چې خصوصي ملکیت او طبقې‌نه وې ،دو لت‌هم نه ؤ. ددولت مینځ ته‌راتلل اودهغه زیات تکامل له طبقاتي‌سختې مبارزې سره یو ځای ؤ .

**دولت چې دطبقاتي‌ټو لنې محصول دی دطبقو په له‌منځه تلو سره زوال مومي چې هغه هم یوازې دبې طبقو پــه‌لوړه ټو لنه کې ترسره کیږي. د دښمنو طبقوپه‌لرونکې ټولنه‌کې ددولت سیا سي و سا یل لکه چې دنړۍ دکار گرانو مشــر وایي : «ما شین پریوې طبقې باندې‌دبلې‌طبقې دتسلط ساتل دی ».**

داقتصاد له مخې دمسلطو یعنې دتولید دوسایلو لرونکو طبقو لپاره دو لت دمظلومو او استثمار شویو دتابع کولــو مقتدر ه وسیله ده .دو لــت چې ځر گند طبقاتي خصلــت لري ، درو بنا بنستیز جزدی، چې پر اقتصادي بنسټ‌ولاړدی او هر ه ممکنه وسیله پـکار اچوي چې دغه بنسټ‌وسا تي اوپیا وړې یې کړي .

دعامه قدرت شته وا لــی‌د دو لت‌دشته والي‌دلیل‌دی ،چې دټولو وگړو له‌ګټو څخه‌نــه ، بلکې دهغې طبقې دگټو چې د اقتصاد له‌مخــې مسلــطه ده، نما یندگي کوي او د و سله ــ وال پو ځاردو او ځا رندوي‌پر قدرت باندې ولاړ وي ،چــې وکولې شي دعامه ځواك پــه خلاف مقاومت وکړي.

دهرې‌استثماري ، مریيتوب فیوډالي ،کاپیتا لیستي ټولنې دو لت دو ظیفه لري، دنــورو طبقو په ار تباط پـــه‌هیواد کې دننه دواکمنې طبقې اوپه بهر کې دنورو هیوا دو پــه ار تباط‌گټې‌وساتي.له‌دې‌امله هر **دو لت دوه ډوله و ظیفې‌لري** کو رنې او بهر نې چې‌کو رنې وظیفه مهمه ده او ټو لــې بـهــر نــې چــا رې ټــاکې‌او پــه ربښتیا سره و پــل کیږي چې‌دهر هیواد بهر نې پالیسي دهغه دکورنې پالیسي دوام دی .

دو لتو نه دهغوطبقو له‌مخې چې‌خدمت ورته کوي ،اوهغه اقتصادي بنسټ چې په هغــه باندې ولاړ دی یو له‌بله سره تو پیر لري.دهغو څلور ډوله هیوادو نو څخه چې‌په تا ریخ کې پیژندل‌شویدي، مریيتوب، فیو ډا لــي ، کپیتا لیستي او سو سیا لیستي ،دهغودلومړیو دریو ډولونو په خلا ف چــې‌د استثمار گرانو دگټودفاع‌کوي، سو سیالیستي دولت دنوې بڼې یو دولت،دخلکو ربښتینې دولت دی .

دپر و لتاري دیکتــا تو رې دولت یاکارگرې دو لت،دهغه په ربښتینې معنی ،سوسیالیزم ته له کپیتا لیزم څخه‌دلیږدیدلو دمودې دو لت دی دپرو لترې دو لت دشته والې ددورې یــو خصو صیت په اقتصاد کې د تولید له‌یو طرزنه دژیات‌شته ــ والي اود پرولتاریا اوبورژوازي تر منځ کلکه طبقاتي یا په عام ډول د استثما ر شویـــو او استثمارگرانوتر منځ‌مبارزه‌ده دنړې‌دکارگرانو سترمشردبې طبقوټولنې په‌لوردپرمختیاپه‌باب وایي چې پرولتاریاددیکتاتوري له لارې پر مخ ځــې اولــه‌دې پر ته نشي کیدلا ی څکــه د کپیتا لستي استثما رگرا نــو مقاومت دکوم‌بل چاله‌خوا‌اویاله کومې بلې لارې څخه‌ما تید لې نشي .

**گوند :**

داهم ځر گند ه ده چــې د پرو لتاریا دیکتاتوري دکارگرې طبقې په علمي اید یالوژۍ له سمبال کار گرې گونـد څخه پر ته امکان نلري گوند دټولنې دیوې‌خاصې طبقې یوه برخه، یو جز یا سازمان دی چې‌ټوله طبقه یو له بل سره یومو ټــې کوي خویوازې دطبقې ډیرفعاله



ACKU

عناصر یو له بل سره متحدکوی چی دخپلی طبقی مبارزی ته لار ښوونه او دهغی دگټو دفاع کوی .

داهم لیدل کیږی چی خو گوند ونه‌دیوی استثمارگری طبقی نما یندگی کوی چی ژیار ایستونکی وغولوی چی تصور وکړی دهغوی تر منځ اختلاف شته په استثماری ټولنو کی دکار گرانو دغولو لو دپاره ځینی گوندونه دکارگرانو دگټو ددفاع دعوی لری چی په حقیقت کی دبورژوازی په خدمت کی دی . ځینی غیر پرو لتری گوندونه هم دارتجاعی یا لیسیوضد په ټاکلو شرایطو کی دریږی او دخپلو خلکو د ژوندانه د ښه وا لی لپاره هلی ځلی کوی‌خو یوازی‌یو گوند په پرله پسی ډول او تر پا یه پوری دکار گری طبقی اونورو ژیار ایستو نکو دگټو دفا ع کوی ،چی دکار گر ی طبقی په دوران جوړوونکی ایدیالوژی سمبال کارگری گوند دی .

دا گوند پرمخ تللی برخه اوپه لوړه تو گه دکار گری طبقی تنظیموونکی دی چی دهغی د ژوندانه گټی ښیا نوی او په علمی انقلابی تیوری‌سمبال‌دی. داگوند داستثمار گرانو دځواك درانسکور ولو ،دپرو لتا ریا ددیکتا توری دټینگښت اوپیاوړ تیا او دفرد له‌خوا دفـرد له استثمار نه دخلاصـی او بی طبقو ټو لنی دجوړ و لو دپاره دکار گری طبقی مبارزه رهبری کوی .

**انقلاب :**

انقلاب دټولنی په ژوند کی کیفی او بنستیز بد لون دی . داکتوبر دانقلاب ستر لار ښود وایی:«هرانقلاب دخلکو دپراخو پرگنو په ژوند کی کلك او سملاسی بدلون دی».

دهر انقلاب دبریالیتوب د پاره په مادی شرایطو سر بیره د ذهنی شرایطو شته‌والی هم حتمی دی چی په عمومی توگه دلوړو طبقوترمنځ ژورکړکیچ‌له عادی حد څخه دغوښتنو زیات سختوالی اودخوریدلومحرومیت او تاریخی خپلوا ك عمل ته د خلکو پراخه جلبو ل دی .

د اکتو بر د انقلاب ستر لارښود ویلی دی « چی ددغو ټولو عینی شرایطو مجمو عه انقلابی حالت یادیږی »

په ټولنیز انقلاب سره د ــ ټولنی یو ټولنیز اقتصادی فورمیسیون بل ټو لنیز ، اقتصادی فورمیسیون ته بدلون مومی. دټولنی دیوه استثماری ټولنیز اقتصادی فور میسیون بل استثماری ټولنیز اقتصادی فـور میسیون تـه‌بدلون دتـولید دقدر تـو نو د تکامل له‌مخی په حتمی تو گه سر ته رسیږی . خو سوسیا ــ لیستی انقلاب داستثما ری ټو لنیز اقتصادی فور میسیون دفرد څخه دفرد داستثمار نـه خلاص ټـولنیز ا قتصـا دی فو ر میسیو ن تـه را ــ دیکال بدلون ،یعنی سو سیاـ لیز م دی .

سوسیالیستی انقلاب دانقلابی شرایطو لـه منځ تـه راتـلو او دکـار گـری گوند له آگاهانه مبارزی پرته چی دکار گر ی طبقی پـه علمی‌ایدیا لوژی سمبال و ی، امکان نلری .له‌دی امله‌سوسیاـ لستی انقلاب دکارگری طبقی تاریخی رسالت دی‌چی دخپل انقلابی گوند له ځوا ، رهبری شوی‌وی.

**اوس ددغو علمی اوفلسفی حقایقو په رڼا کی‌دثور له‌انقلاب نه لږ څه مخکی دافغانستا ن دخلکو ددمو کراتیك گوند پـه تاریخی پیښمو لنډ نظر ا چوواود درنو پوهانو قضا وت ته یـی وړاندی کوم‌چی‌دعلمی‌ سو سیاـ لیزم داصولو اوقوانینو پـه چوکاټ کی په‌هغـو قضا وت وکړی .**

دافغانستان دتاریخ پـه او ږدو کی زموږ زړه وروخلکو داستبداد ،استعمار اوامپریاـ لیزم په مقابل کی له فداکاریو او قربانیو نه ډکو مبارزو ته دوام ور کړیدی چی زمـو ږ د هیواد دتاریخ پاڼی پری ښکلی شویدی اود هیوادمیرنی بچیان په‌هغو ویا ړی .

دافغانستان خلکو خپلی دغه اتلوالی مبارزی کله پټی اوکله ښکاره ،کله‌په منسجمو بریدونو او کله‌یی دتیتو گو زار و نوپه بڼه‌کله په‌منظمه توگه اوکله یی په غیر منـ ـمه بڼه،اوان‌یوه‌موده یی په متشکله توگه هم پرمخ بیولی دی .

خو زموږ دفدا کارو خلـکو مبارز ی دشلمی پیړی ترپنځمی لسیزی پوری هیڅکله دداسی یو گوند له‌خوا ، چی د یوی خاصی طبقی نمایند گی‌یی‌کوله رهبری شوی ندی !وان تردی وخته پوری‌ددوی دمبارزو پـه تاریخ کی دگوند کلمه دهغی‌په رښتینی‌مفهوم په کـارنـه وه اچول شوی .

دشلمی پیړی‌د پنځمی‌لسیزی په وروستیواود شپږمی لسیزی په لومړیو وختونو کی‌وو،چی‌د لومړی ځـل لپاره د گـونـد علمی مفهو م ز مـــوږ د هیو ا د په سیاسی ادبیاتو کی تربحث لاندی ونیول شو چی‌په هغه کی ستر رول زموږ ستر مشر ملـگری نـورمحمد تره‌کی درلوداو ددی‌ادعاډیرښه شاهدد(انگار)په‌نامه جریده‌وه، چی دویښی زلمیانو دگوند لـه خوازموږ دگران ملگری‌په‌فعاله برخه اخیستنه خپریده. همدا وخت و چی دسیاست مفهوم په رښتینی توگه تکامل کاوه، څکه په هیواد کـی دوا کمنو ټـولنو ضد اود واکمنو طبقو ر هـبـر ی کـو و نـکـو مبارزو پـر ضد په جـټـکـی سره پر مختیا مو ند له‌و زموږ خلکو په آگاهانه توگه دفیوډالو واکمنو ، ستمگرانو له واکمنی څخه دخلاصون لپاره ورځ پـه ورځ زیاتیدونکی برخه‌اخیستله همداوخت ؤ، چی‌سیا ست د هیواد دبیلابیلو طبقو ترمنځ‌د اړیکی اود اقتصاد دلنډ یز په توگه په آگـاهانه ډول نظـر جلبوی چی دهغه زیات ویـاړ زموږ گران مشر لری .

**دشلمی پیړی دشپږمی‌لسیزی په وروستیو اود اوومی لسیزی په لومړیو وختونوکی له‌افغانی ټولنی څخه دملگری نورمحمدـ تره‌کی دژور درك اود هغوی له‌خوا دکار گری طبقی دایدیاـ لوژی ،دپوره هضم له‌امله‌ددغی خلاقی تیوری په ساحه کـی د ځانگړو نوښتونو سبب‌شوه. پدی معنی چی‌په افغانستان‌کی فیوډالی‌نظام‌تسلط درلوددتولید دقوتونو له‌نسبی ودی‌اودهیواد له لږو کار گرانو سره زمونږ دټولنی دځانگړو خصوصیتوـ**





ACKU

**نوپه‌نظر کی نیولو سره‌دکار- گری طبقی دعلمی تیوری دعامو قوانینودتطبیق په فکرکی شو.**

په دغه وخت کی چی په افغانستان کی‌له کپیتالیزم‌څخه سوسیالیزم ته‌په تیریدلو کی دکار گری طبقی‌رول نشومطرح کیدلی ملگری نورمحمد تره‌کی دکارگری‌طبقی‌گوند، دافغانستان دخلکو دمو کراتیك گوند جوړ کړاو سیاست یی دهغه په ربښتینی معنی یعنی د سیاسی ځواك لپاره‌دطبقودگټودبرخورد په توگه را منځ تـه کړ .که لږ واقعبینانه فکر وکړو،دنړی ټولو خلکو ته چی له افغانستان سره په نسبی‌توگه‌ورته شرایط لری ډیر الهام ښښونکی دی.چی ملگر ی نور محمد تره‌کی درك کړه چی‌ان په فیوډالی شرایطو کی کولای شو چی دهیواد له کارگری‌طبقی‌گوندسره‌داستثماری نظام په ضد مبارزه وکړواول سلطنتی ځپه کوونکو شرایطو سره یی داسی چلند وکړچی دکارگری طبقی دنوی ویاړلـی گوند دلو مړی کنگری‌دجوړیدو امکا نات بـرا بـر کـړی اود ۱۳۴۳ کال دجدی په۱۱د۱۹٦۵ عیسوی کال دجنورۍ په لومړی نیټه یی دکابل ښار په‌څلورمه کارته کـی په خپل کور کـی دافغانستان دخلکوددموکراتیك گوند لومړی کنگره جوړه کړه.

پـــدی کنگره کی ملگـری نورمحمد تره‌کی درایو په‌اتفاق دکنگری له‌خوا دمرکزی کمیټی په‌غړیتوب او د مرکزی کمیټی په‌لومړی پلنوم کی‌دراً یو پـــه اتفاق د افغانستان د خلـکـو د د موکراتیك گوند د مرکزی کمیټی د عمومی منشی په‌توگه وټاکل شوچی‌ترنن ورځی‌پوری خپلی دغی وظیفی ته‌په دوام ورکولو سره یی‌دافغا نستـان دخلکـو د دموکـراتیك گـوند ټول غړی ویاړلی دی .

دافغا نستان‌دخلکوددموکراتیك گوندد‌نامه‌په‌ټاکلو کی دهغه‌په‌کار گری ماهیت سره زموږ دغـــه غوره ملگری غوښ رول درلود.

**له‌کنگری څخه وروسته‌دگوند دمبارزو په جریان کی زمـوږ ستر ملگری‌په‌دغو دریواصلونو باندی ټینگار کاوه. دطبقاتـی مبارزی لازیــاتول ،دکارگری طبقی دعلمی تیوری اوترټولو دمخه‌دهغی دفلسفی‌برخی زیات خپرول زموږ دگوند بریـالیو تجربو ددغو دریو اصلونو تا- کیدی ربښتینوالی ډیرښه ثابت کړچی نن‌افغانستان ته په‌ورته ټوله نړی کی دزیات تائید او تعمیل وړ دی .**

زموږدگوند دمبارزوپه اوږ- دوکی زموږ سترملگری زموږ دخلکو خویونو او زموږ دټولنی جوړښت ته ډیره پاملرنـــه در لوده .هره شیبه یی دغه معیارونه په نظر کی درلودل‌او هیڅکله یی حـکـم نه کـاوه ســر بیـره پـدی د نـادرداؤد سلطنتی‌کورنی، دستمگردولت‌د طبقا تـی لا عـلـی التعییـــن او اجتماعی ما هیت پیژندلوته ډیر زیات متوجه وو ، او دهغه دما هیت په پوره‌پیژندلو باندی یی آگاهانه تسلط درلود او یا داچی تل به‌یی ددولت په باره کی ټول کلاسیك تحلیلات پـه نظر کی نیول، په مشخصه‌توگه له‌امپریالیزم او توری ارتجاع سره ددولت درهبری ارتباطته متوجه وو .

زموږ ستر مشر لکه‌چی په ټول افغانستان کی دطبقاتـی مبارزو زیاتوالی‌ته‌سخت متوجه وو، دگوند دننه یی هم دطبقاتی ماهیتو نو او اجتماعی اړیـکو انعکاسو نه په ژوره توگه په نظر کی نیول‌اوهیڅکله یی‌امکان نه ورکاوه، چی گوند دحاکمو ټولنو په خدمت کی ودریږی، ستمگر دولت که هر څومـــره هلی ځلی وکړی چی دهیواد دکار گری جنبش مشر توب دهغوی ددرباریانو دستـر گو دکسو لاسس ته‌ورشی دهغه‌پوره باور له مخی چی زمــوږ ستر ملگری په خلکو اود زیار کښانو دبچیانو په غو ړیدلو استعدا- دونود رلود، دفیو ډالی دولت درهبری کوونکو ټولنو ددغـو هیلو دترسره کیدو امکان یی نه‌ورکاوه .

دغه سبب و، چی تل یی‌خپلو ربښتینوملگروته طبقاتی‌مفکوری تلقینولی اوپه خلکو کی دخپل ویاړلی گوندپه واسطه دطبقاتی مبارزو سختوالی به لټه کی وو.

زموږ ستر ملگری دگوندپه رول‌کی طبقاتی انقلابی مبارزو ته زیات ارزښت ورکاوه ..

دگوند رول یی دتودو دپه خپل سر جنبش په ارتباطنه محدوداوه، عقیده یی لرله چی- گوند په سم طبقاتی کار سره کولی‌شی، دافغانستان‌دزیار - کښانو ملاتړجلب‌کړی .پوهیده چی‌په هیواد کـــی خپل سری جنبش ، په نطفه کی دی‌اود هغه دپراختیا دپاره انتظار،چی گوند یی رهبری کړی انقلاب شاته لویږی لهدی امله یی تل سپارښت کاوه،چی‌دزیارکښانو په‌کور نی کی دهرنوی زیږیدلی بچی په غوږ کی‌طبقاتی مبارزه پیل کړی .

زموږ گران ملگری چی گوند یی رهبری کاوه دخپل ویاړلی گوند دمبارزو له پیل څخه په کارگری مبارزو باندی‌دپرولتاب ریاددیکتاتوری له امله زیا ت ټینگار کاوه .

زموږدټولنی دشرایطوپه‌نظر کی نیولو سره یی پدی عقیده نه‌لرله چی‌باید په‌لومړی‌پړاو کی ددمو کـراتیك جنبش مشر ی هریوه قشر اویا غیرپرولتری طبقاتوته ورکړی بلکی دخپلو گوندی مبارزو له پیل څخه‌یی په انقلابی مبارزو کی دکارگری طبقـــی له ر هبـــری د هغـــه په نمایند گی‌دافغا- نستان دخلکو دموکراتیك گوند له رهبری‌سره مینه‌لرله‌اودکار گری طبقی په گوند باندی یی په پوره ډاډ زور اچاوه .

زه تاسو ټول‌مبارز اوزړه‌ور- ملگری اودوستان دغی‌موضوع ته متوجه کوم، چی‌په‌ټولو کار- گری انقلابی مبارزو کی‌په ډاگه څرگنده ده ،چی انقلابی گوند دخلکو کارگری نهضت،رهبری کوی‌چی بر یالی شی ، گـو ند انقلاب نه کوی، بلکی دخلکو انقلاب رهبری کوی خو زموږ ستر ملگری په‌دغه انقلابی اصل باندی په پوهیدو سره عقیده نه لرله چی باید دومره انتظار وایستل شی‌چی پخپله دخلکو جنبش دومره وده‌وکړی چـی گوند هغه ته دبریالیتوب په‌لور لاربښوونه وکړی‌بلکی‌گوند باید دخلکو بالقوه او بالفعل ملاتړ ترلاسه کړی.ترهغه وخته‌پوری چی گوند په خپله انقلاب پیل

ACKU

کوی. دخلکو دباور وړشی‌چی په دغه حال کی گوند انقلاب کوی‌اودخلکو دملاتړ وړوگرځی زموږ دستر مشر دغی عقیدی دنور په ستر انقلاب کی‌په ښه توگه تحقق وموند اوددغه دیالکتیکی اصل په پیروی سره دنوروهیوادو دخلکودبریالیتوب لپاره دپوره ډاډ وړ مصداق شوه .څکه‌د افغانستان په شان شرایطو کی امپریالیزم اوارتجاع زیارباسی چی دخلکو غوږ څنگ داسی مسموم‌کړی چی له فرد نه دفرد له‌استثمار څخه خلاص نظام ته تیریدل تریوی اوږدی مودی پوری ناممکن کړی خود هغه گوند دانقلابی دریخ بیاوړتیا چی دخلکو ملاتړ ترلاسه کړای شی دغه اصل ته‌یی تحقق ورکاوه. چی گوند کولای‌شی دانقلاب‌دبریالیتوب لپاره دخلکو پراخ ملاتړ جلب کړی. هیله‌ده دغه‌طرحه‌دکلکی‌اوزوری پاملرنی وړ وگرځی چی دافغانستان په شان شرایطو کی یی خپل حقانیت ثابت کړیدی .

زموږ ستر ملگری دافغانستان دخلکو په‌ټولنیز ژوند کی دځواك اساسی مرکز چی ظالم دولت له منځه وړلی شی‌پیداکړ مخکی تردی په ټولو هیواد و کی انقلابی ځواك دپرولتاریا کارگری‌وه‌او اوس هم‌ده. کار-گری انقلابی مبارزی هم‌داسی عیاری وی چی باید دپرولتاریا دودی امکانات منځ ته راشی‌او دغه پروسه چټکه شی چی دپرولتاریا په‌طبقاتی آگاهی سره دکارگری انقلاب بری میسر شی ،دولت له منځه لاړشی .

و سله وال‌ځواك ورك اونوی جوړ شی .

خو زموږ گران مشر دافغانستان په پر مختیا یی ټولنه کی درك کړه چی دپرولتاریا د طبقی په‌علمی ایدیالوژی باندی دهیواد داردو په سمبالو لو او دکارگر دطبقی دنوی طراز گوند په‌ساز ماننو کی دهغه په متشکلو لوسره کولای شو ،کارگری انقلاب سرته ورسوو ، چی‌په هغه کی اردودستمگر دولت‌دنسکور ولو رول ،چی دپرو لتاریا له خوا تصور کیده ، هم‌تر سره کړی .ارد و باید ماته نه‌کړو بلکی اردو باید خلقی‌اوانقلابی کړو زموږ ستر ملگری دا سی وکړه اود هغه له مخی یی گوند رهبری کړ چی دنور ستر انقلاب بر یالی شو :

**زموږ ستر ملگری ،دافغانستان په شان ټو لنو کی دانقلاب کلا سیکو شرایطو ته هم خاصه پاملر نمو کړه‌پوهیده چی دجنبش او کا ر گر ی گوند، دچټکی پیا وړ تیا یو ډیر مهم عامل دهغه در هبری دغړ یو سیاسی او اجتما عی تقوا ده .**

**په افغا نستان کی داجتماعی شرایطو په ارتباط سره هم**

**زموږ گران ملگری او مشرپراخه پوهه در لوده او باور یی‌درلود. چی دپر مختیایی هیوادو په شرایطو کی‌د خلکو نا خو ښی دهغو په‌بی تفاوتی کی نغښتی ده‌اود کار گری‌طبقی دنوی‌طراز گوند د مثبتو دو دو نو اود خلکو ددموکراتیکو ارزښتو نو په ر عایت کولو سره ، دهغه دپوره ملاتړدجلبولو امکان‌شته.**

زموږ ستر مشرپوره در ك کړی وه ،چی دافغا نستان به شان په پر مختیا یی ټو لنو کی چی تر اوسه لا د کپیتا لیستی نظام امپر یالستی پړا و ته ندی رسید لی ،دهغه انقلاب‌د بر یالیتوب شرایطچی کارگری دولت ټینگ کړی بیخی به‌ځان پوری مختص‌دی په تیره بیاد غه حقیقت هم دپاملر نی وړ دی ، چی پرو لتاری دولت چی د کار گری‌طبقی د نوی طراز گوند له خوا په فیوډالی ټولنه کی جوړ یږی دولت له فیوډالیزم نه سوسیا لیزم‌ته دلیږدولو موده ده نه‌له کپیتالیزم نه سو سیا لیزم ته.

پدی توگه ټو لنه‌په‌یوه‌وخت کی دوه تاریخی دوری شا ته پریږدی چی زمو ږ خلقی دولت ددغو کار گری حکو متو نو دبنی ډیر ښه‌او لو مړ نی ممثل دی .

دملگر ی نور محمد تره کی بل خلاقیت دگوند دمبا ر زو غړ یو په پیژند نه اود هغوی دپر له پسی کارهمیشنی‌تعقیب وتل یی صا دقانه چلند کاوه هیڅکله یی دورا نکاری‌سلوك نه کاوه او تعمیری امکا ناتو ته یی ډیر ارزښت ور کاوه .

په انقلابی کار ونو با ندی په کلکه در یده اود ځوا نا نو دروزنی په حاطریی پراخه‌فصا برابر وله دهر چا طبقا تی ماهیت یی په نظر کی درلوده خود افغا نستان‌په خپرشرایطو کی یی خپل ټو لنیز ار تباطاته ټولو نه زیات مهم باله،دگوندی کار به طرز کی دگما تست نه ،دشرایطو له غو ښتنو سره سم یی گو ندی فعالیت عیاراوه چی گوند یی دبر یا لیتو ب په‌لوری دثور دستر انقلاب‌بری ته رهبری کړ او نن ورځ هم زموږ گوند دخپل دغه ستر لار ښود دمشر تابه ویا ړلری.

زموږ ستر مشر تل دمبارزو بیلا بیل شکلو نه یوله بل سره تلفیق کول هیڅکله یی دتسلیم طلبی دپر مختیا امکان نه به گوند کی لاره نه ورکوله او دهر ډول ما جرا غو ښتنی مخه به‌یی نیوله تل یی موضو عگا نی دیا لکتیکی څیړلی.

خود کارگری مخکښی گوند له تیوری سره سم دافغانستان په شرا یطو کی دکار گری انقلاب په‌خاطر له گوریلا یی جگړو سره موا فق‌نه و. ویل به یی چی‌دتودی ارتجاع دتاریخی سا بقی اوله امپریا-لیزم سره دهغی دپیو ستون‌له

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

مخی په گوریلایی جگړی سره سیا سی قدرت په نیما یی‌لاره کی له لاسه ځی دا پدی معنی نه‌وه ،چی یوازی په سو له‌ایزو مبارزو یی تکیه درلوده، بلکی ویل یی چی گوند باید داسی رهبری او چمتو شی،چی انقلاب په رڼا ورځ پیل کړی‌او بر یالی یی کړی ،چی سیا سی قدرت په مستقیمه توگه کارگری طبقی ،دهغی په نمایندگی دکار گری طبقی گوند ،دافغانستان دخلکو دمو کرا تیک گوند ،دهیواد دکار گری طبقی مخکښ ،ته ولیږ دیږی چی‌دثور په انقلاب کی بیخی دا سی وشول .

په‌گوندکی اشرافیت‌د دربار یانو دستر گو کسوزمورږدستر مشر له دغه چلند سره ژور مخا لفت در لود له گو ند نه بیل شول ،او دسلطنتی در بار په پراخه برخو ر داری سره یی زمورږ دستر مشر په ضداو زمو ږ دو یاړلی گوندپر ضد په کلکه مبا رزه پیل کړه خرنگه چی زمو ږ دستر مشر تیښسو نودافغانستان په خیر دیو هیواد له شرا یطو سره بیخی‌سمون درلود، دنادر،داؤد ددر با ریا نو ،دبچیا نوټولی نا وړه هلی ځلی نا کامه‌شوی سلطنت او امپر یالیزم که هر څو مره هڅه وکړه چی دافغانستان دخلکو دمو کرا تیک گو ند زمورږ دستر لار ښو د له ځنگ څخه دمعلوم الحاله عنا صرو په څو ځلی لری کیدلو سره‌کمزوری کړی‌خوهر ځلی چی څو نا مطلوب عناصر زمورږ له گوند نه ووتل زمورږ دمشر گرا ننبت او ز مورږ دگوند دریځ دخلکو ترمنځ لوړیده او جر ړی یی هری خوا ته غزیدلی، زمورږ ستر مشر په خپلی ټولنی یاندی‌په‌پوره‌خبرتیا سره په منا سبو وختو نو کی‌دگوند ټولو غړیو او ساز مانونو ته له بری‌نه ډکی‌لارښو دنی کولی ، کله یی دهیواد ددښمنا نو دهیلو په خلاف‌گوند دظاهر ،د اود دفاسد رژیم له گو زار څخه ژغوره او کله‌زمورږ دگران مشر په‌هدایت‌په‌وسله‌والو قوا ووکی ،دگو ند رول دومره پیا وړ ی و، چی د داود دررژیم دړ نگو لو ځواك یی‌پیدا کړ .

زمورږ گران مشر دافغانستان دخلکو دد مو کرا تیك گو ند دهیواد دکارگری‌طبقی مخکښس له کلك دسپلین سره سخته مینه درلوده ،او ددمو کرا تیك سنتر الیزم اصو لو ته یی زیات ارزښت ور کاوه ،په خپله زمورږ گران ملگری دخلکو ترمنځ‌اود گوند در ښتینو غړ یو تر منځ د پیو ستون د جـذب او جلب دمحور په توگه وو،لکه څرنگه چی ما یا کو فسکی دو لادیمیر ایلیچ‌لینن په‌باره کی ویـل : گو ند او لینن تن او ساده.

تن او سایو له‌بله بیلیدای نشی .

چی دگوند خبره کوو دلینن خبره ده ،

چی دلینن خبره کوو دگوند خبره ده ...

دغه مو جز مطالب دشو روی اتحاد دکمو نست گو ند ډیر لوړ مرکزیت ښووده چی دهغه ستر لار ښود ته متمر کـزو او په دغه را زټینگ او پیاوړی دسپلین سره یی وکو لی شول چی دا کتو بر ستر انقلاب په بری سره رهبری کړ ی اودهغه داو زښتونو دفاع وکړ ی مورږ هم دخپل ستر لار ښـود در ښتینو پیروا نو په تو گه دثور دستر انقلاب په‌بریالیتوب اود هغه د هدفو نو په‌ساتنه کی یو له‌بل سره متحد او تل دخپل ویا ړ لی لارښود په شاو خوا کی غو ند شوی یو او خپل گو ندی دسپلین ته په احترام کولو سره وا یو .

گو نداو تره کی ،جسم او روح دی ،

جسم او روح یوله بل نـه بیلیدلی نه شی.

که‌له گوند څخه خبری کوو خبره دتره‌کی ده.

که له تره کی څخه خبری کوو خبره دگوند ده .

هغه یو دنړی دپر ولتار یا ستر لار ښوداودا بل‌دافغانستان دزیار ایستو نکو خلکو ستر لارښود دی.

دواړو ستر ولار ښو ونکو دد وو ستر و کارگری‌انقلابو نو لار ښودنه کړیده، چی‌دبشریت په تاریخ کی له خپل پیل نه کارگری انقلابو نه وواوسیاسی واك یی دخپل بری له پیل‌څخه کار گری طبقی ته‌ولیږداوه.

یو یی د اکتو بر سو سیالستی‌لوی انقلاب او بل یـی دثور خلقی لوی انقلاب وو.د اکتوبر ستر انقلاب نړی ولړزوله خو دادی دثور په ستـر انقلاب پسی دآسیا دغه سیمه په حرکت راغلی ده. داکتوبر له‌ستر انقلاب‌سره دنړی‌خوارلس امپر یالیستی اوار تجاعی هیواد ونه سره یو شول اود اکتوبر دانقلاب په هیواد کـی یی عسکر پلی کړل نن هم‌ډیر لوی امپر یا لیستی‌کیڼ افراطی او ښی افرا طی قو تونه سره په گډه دثور دانقلاب په خلاف تو طیی کوی داکتوبر د ستـر انقلاب په ضد یی دشو راگانو په هیواد کی دننه له‌دی ا مله پو ځی مداخله‌وکړه،چی‌شوروی اتحاد په نړی کی دخپل ځان په شان کوم دوست نه در لود، او په خپل ځنگ کی یی کـوم بل سو سیا لیستی نظام نه لیده .مگر نن دثور دستـر انقلاب په هیواد کی د تیری کوو نکو داسی پو ځی مداخله امکان نلری څکه دشو را گانو دستر هیواد په شان شپیتـه کلن دوست لری،اودنړی‌دکارگری نظامونو او ټـولو کارگرانو او زیار ایستو نکو ملاتړ ورسره دی .

**دټولی نړی‌کارگرانو داکتوبر دستر انقلاب ملاتړ وکړاود پر ولتاری انتر نا سیو نا لیزم اوکارگری انقلابی جنبش بریالی الهام بخښو نکی منبع ده.**

دنړی ددغی سیمی دزیار ایستو نکو له‌خوا دثور دانقلاب ملاتړ هم سرحد نه پیژ نـی، دوی دخپلو هیوادونو دټولنیزو واو اقتصادی نظامو نو په نظر کی لرلو سره ،دثور دانقلاب‌د بریا لی لاری دالصو لیـت او صحت په پو هیدو او دطبقاتی و رور گلوی او پیو ستون په احساس سره له‌هغه‌دفاع کوی.

دهغه سو سیا لستی هیواد ستر مشر، چی داکتو برد ستر انقلاب په نتیجه کی منځ تـه راغی ، لومړی ځل یی نړی‌ته دسو لی فرمان اعلام کړ اود خپل هیواد دگوړ نی اوبهړ نی

